# د تروریزم مانع او د ځورونکي مانع څه شی دي؟

## د افغان پناه غوښتونکو لپاره توضیحات

NATIONAL IMMIGRANT JUSTICE CENTER
A HEARTLAND ALLIANCE PROGRAM

### د پناه غوښتنې لپاره موانع کومې دی؟

- د پناه موانع د پناه ترلاسه کولو څخه د یو شخص مخنیوی کوي حتی که هغه د پناه ترلاسه کولو لپاره ازمیښت هم پوره کړي.
- د پناه پروړاندې ډیری مختلف موانع دي، پشمول د یو کال مهالویش مانع، د ترلې بیامیشتیدنې مانع د هغه افرادو لپاره چا چې د امریکا متحده آیالاتو ته راتګ نه مخکې په یوه بل هیواد کې د دایمي اوسیدو دریځ درلود، او مخکیني جرمي فعالیت پورې ترلې موانع.
- که تاسې د پناه څخه مانع شوي په حیث وموندل شوئ، تاسې لاهم ممکن د امریکا متحده آیالاتو کې د بل محافظت لپاره په شرایطو برابر اوسئ چې د ایستلو ځنډ او د شکنجې پروړاندې کنواسیون (CAT) هوسانه بلل کیږي. دا ډول هوساینې لپاره تاسې په هماغه وخت کې غوښتنه کوئ کله چې تاسې د پناه لپاره غوښتنه کوئ.

### د ځورونکي مانع څه ده؟

د هغه افرادو لپاره د پناه مانع چا چې کوم بل چا ته د زیان رسولو امر کړی وي، هڅولی يې وي، مرسته يې کړې وي یا زیان رسولو کې يې برخه اخیستې وي. پدې کې هغه څوک هم شامل کیدی شي چې دې کارونو ته په زور اړ کړی شوی وي یا هغوی ته یا نورو ته د زیان رسیدو ګواښ لاندې يې کړي وي.

هغه افغان پناه غوښتونکي چې په محبس کې، د پولیسو یا اردو سره، یا د حکومت امنیتي ځواکونو لپاره يې کار کړی وي چیرې چې د هغوی په اړه راپورونه شتون لري چې دغه ډلو نور خلک ربړولي دي یا یې په غیر قانوني ډول ورته زیان رسولی وی هغه د دې مانع سره مخ کیدی شي. دا مانع حتی پدې صورت کې هم پلي کیدی شي که چیرې ربړول او شکنجه یا زیان په یوه تروریست یا مجرم باندې پلي شوی وي یا هم د یوه شکمن فرد د پلټنې په لړ کې وي.

### دا ولې مهم دی چې افغان پناه غوښتونکي د ځورونکي او تروریزم موانع په اړه پوه شي؟

- د ځورونکي او تروریزم موانع اکثرأ هغه خلکو باندې اغیزه کوي څوک چې په داسې ټولنو کې اوسیدلي وي چیرې چې ډیرې، د تاوتریخوالي ډکې شخړې موجود وې یا چیرې چې حکومت د بشري حقونو نه د سرغړونې تاریخچه لري.
- په تیرو لسیزو کې په افغانستان کې د بیلا بیلو جګړو او د بې شمیره وسله والو ډلو د شتون له امله چې په افغانستان کې یې فعالیت درلود، دا احتمال شتون لري چې ډیری افغان پناه غوښتونکي به د دې موانع په اړه پوښتنو سره مخ شي او ځینې یې ممکن د دې په پایله کې د پناه لپاره په شرایطو برابر ونه پیژندل شي، حتی که د کومې ځانګړې ډلې سره د هغوی فعالیتونه یا اړیکه اجباري یا د هغوی د خوښې پرته وه.
- دا خورا مهم دی چې تاسې د وسله والو ډلو یا حکومتي ډلو سره هرډول راکړه ورکړه په اړه ریښتیني اوسئ کله چې د مهاجرت مامورانو یا د امریکا متحده آیالاتو حکومت نورو استازو سره غږیږئ.
- که تاسې فکر کوئ چې د دې موانعو څخه کوم یو یې شاید په تاسې پلي شي، نو موږ په کلکه سپارښتنه کوو چې تاسې د پناه غوښتنې نه مخکې د یوه څارنوال بندوبست وکړئ.

**دا سند حقوقي مشوره نه وړاندې کوي. د پناه غوښتونکي په کلکه هڅول کیږي چې د هغوی ادعاو باندې د دې موانعو د تطبیق په اړه مشورې لپاره د پناه تجربه لرونکي وکیل سره وغږیږي.**

# د تروریزم مانع او د ځورونکي مانع څه شی دي؟

## د افغان پناه غوښتونکو لپاره توضیحات

NATIONAL IMMIGRANT JUSTICE CENTER
A HEARTLAND ALLIANCE PROGRAM

### د تروریزم مانع څه شی دی؟

د هر هغه چا لپاره د پناه غوښتنې ته مانع چا چې نورو ته زیان رسولو یا د ملکیت تخریب کې برخه اخیستې وي یا د غیرقانوني تاوتریخوالي کارولو ګواښ کړی وي یا چا چې داسې یوه ډله ملاتړ کړې وي (د پیسو، وینا، یا نورو شیانو له لارې) کومه چې غیرقانوني تاوتریخوالی کاروي.

- طالبان یوه اعلام شوې تروریستي ډله ده، یعنې طالبانو پورې اړوند هرډول فعالیت یا ملاتړ که تاسې کړی وي (حتی که ستاسې د خوښې برخلاف هم وي یا د تاوتریخوالي د ګواښ لاندې) د احتمال له مخې تاسې د تروریزم مانع سره مخ کوي.
- د ایران اسلامی انقلاب سپاه پاسداران (IRGC) یوه اعلام شوې تروریستي ډله ده. هر هغه چا چې IRGC پورې اړوند فعالیت کې برخه اخیستې وي، پشمول د IRGC لخوا روزنه ترلاسه کول، IRGC پورې تړلې نظامي عملیاتو کې ګډون کول، یا د داسې ډلو لپاره کار کول چې د IRGC لخوا تمویل شوې یا مرسته یې ترلاسه کړې وي هغه د احتمالاً د تروریزم مانع سره مخ کیږي.
- په افغانستان کې نورې غیرقانوني وسله والې ډلې، حتی هغه ډلې چې د امریکا متحده آیالاتو اردو سره یې ایتلاف و، د امریکا متحده ایالاتو د قانون لاندې تروریستي ډلې بلل کیدی شي. په کومه وسله واله ډله کې برخه اخیستل یا ملاتړ وړاندې کول (خواړه، پناه ځای، حمل او نقل) تاسې د تروریزم مانع سره مخ کولی شي، حتی که نوموړې وسله واله ډله نن ورځ هیڅ شتون هم ونلري.
- که چیرې هغه فعالیت چې تاسې د تروریزم مانع سره مخ کوي په تیرو پنځه کلونو کې پیښ شوی وي، نو ستاسې میرمن او ماشومان هم ممکن د تروریزم مانع سره مخ شي، که څه هم ځینې استثنآت شتون لري.

### په مکرر ډول پوښتل شوی پوښتنې

**1. زه څنګه پوهیږم چې آیا د تروریزم یا د ځورونکي مانع په ما پلی کیږي؟**

واردمخه پدې پوهیدل مشکل دي چې آیا د مهاجرت چارواکي به په کوم کیس باندې کومه مانع پلي کړي، مګر که تاسې پدې سند کې شرح شوي کوم حالات یا فعالیتونه تجربه کړي وي، نو NIJC تاسې هڅوي چې د مهاجرت یوه څارنوال سره مشوره وکړئ.

د پناه غوښتنې مرکه کې، که چیرې مامور فکر وکړي چې کومه مانع پلي کیږي، نو د احتمال له مخې هغوی ممکن "لوړه" واخلي چې پدغه کې هغوی کټ مټ هغه څه په یوه کاغذ باندې لیکي چې تاسې ویلي او تاسې باندې دغه کاغذ لاسلیک کوي ترڅو یې صحت تایید کړي. دا ستاسې د I-589 پناه غوښتنلیک باندې لاسلیک څخه جلا دی.

**2. که چیرې د مهاجرت ماموران مشخص کړي چې زما کیس باندې یوه مانع پلي کیږي، آیا دا پدې معنې دی چې زه به و ایستل شم؟**

نه. تاسې لاهم د ربړونکي پروړاندې کنوانسیون (CAT) لاندې د یو ډول هوساینې لپاره ملاحظه کیدی شئ. تاسې د I-589 پناه غوښتنلیک په 1 پاڼه او 5 پاڼه کې د CAT خانه په نښه کولو سره د پناه غوښتنې پرمهال د CAT هوساینې لپاره هم غوښتنه کوئ. یوازې د مهاجرت قاضي کولی شي دا هوساینه تضمین کړي.

**3. که چیرې زه د یوې مانع سره مخ اوسم، آیا دا پدې معنا ده چې زما میرمن یا ماشومان به هم منع کړی شي؟**

دا تراو لري. لکه څنګه چې په بله خانه کې تشریح شوي دي، ځینې وختونه میرمن یا ماشوم د تروریزم مانع سره یوازې د هغوی د کورنی اړیکې له امله مخ کید لی شي. مګر که دغه برخه نه پلي کیږي، نو بیا میرمن یا ماشوم کولی شي پخپله د پناه لپاره غوښتنه وکړي ترڅو د مانع سره نه شي.